لیکوال: کاندید اکادمیسین سیستانی
پشتوژباړونکی:رحمت آریا

۷/ ٦/ ۲۰۲۰

د وزیر اکبرخان دمیړانی اوعالی کرکټرڅو بیلګی

ملی اتل وزیر اکبرخان (۱۸۱۶ – ۱۸۴۶)
(دمیړانې ، زړورتیا،او سرلوړی څهره)

په نولسمې پیړۍ کې زموږ د هېواد د تأریخ یوه ځلانده ویاړلې څیره ، د افغان – انګلیس د لومړۍ جګړې ملي اتل وزیرمحمد اکبر خان د امیر دوست محمد خان زوی او د سردار پاینده خان بارکزي لمسی ، دی.

سردار وزیر محمد اکبرخان ، زموږ د ولس د هڅو ، جنګ او جګړو د تأریخ هغه ځلانده څیره ده چې د انګریزانو پر وړاندې د کابل د وګړو د پاڅون په لارښوونه او برې کې یې په سربښندنې ، رغنده اوهیوادپاله ونډه لوبولې ده ؛ خوپه خواشینۍ چې د وزیر اکبرخان له سرلوړۍ او ویاړونو ډک ژوند ، لنډ وو.

سرداراکبر خان ۱۶- ۱۷ کلن وو چې په کندهار کې یې د شاه شجاع لښکر درې وړې کړ او دغه بریا ده ته له هغه مهاله وروسته ور په برخه کېدله چې په جلال اباد کې یې د دغه ولایت سرکښ والي نواب محمد زمانخان ټکولی وو ؛ نوموړي په کلابندۍ کې له امیر دوست محمد خان سره د بالاحصار د دیوالونود مورچلونو له شا جګړه کوله.

۲۰کلن وو چې د خیبر ددرې په بلې غاړه کې دجمرود ّه سیمه کې د یوې مخامخ جګړې په لړ کې د سیکهانو سر لښکر، جنرال هري سینګهـ مات او بیا یې وواژه.(عکس داستاد حامد نوید په قلم د جمرود جګړې صحنه ښیي)

۲۲ کلن چې زموږ پر هیواد د سیکهانو اود انګلیس د ځواکونو له خواله دوه وو لوریو تیری وشو، اکبرخان د سیکهانو د لښکر د مخنیوي لپاره د خیبر

افغان جرمن آنلاین تاسو په درنښت همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

تر درې پورې وړاندې ولاړ خو د هیواد د خپلواکۍ او ولسواکۍ دښمنانو هغه تـه د جګړې لـه پیلیدا مخکې زهر ورکړل او د مرګ تر پولې یې ورساوه خو له نیکه مرغه مړ نه شواو یو ځل بیا د تأریخ د ننګونو له آزموینې څخه سرلوړی راووت.

تردی وروسته په هماغه کال کې د بخارا د پاچا په زندان کې ولوید . د «نـوای معارک »د لېکوال د وینا پر بنسټ ، وزیراکبر خان ډیر زړَوَر ، باتور او له میرنتوبه ډک د پیاوړې افغانې روحیې څښتن وو او له هېڅ شي او هېڅ چا یې ویره نه درلودله ؛ د بیلګې په توګه د بخارا امیر (چې خپل ولس یې " د قصاب امیر" په نوم باله) ، وزیر اکبر خان او پلار یې امیردوست محمد خان خپل دربـار تـه وغوښتل او د هغه پلار ته یې ترخې او تروې خبرې وکړې. سردار اکبر خان چې په رګونو کې یې د افغاني سرښندنې او میرانې وینې په څپو وې په ډیرې ترخې ژبې یې د بخارا د امیر خبرې بیرته پـه ورته ډول ورځواب کړې او په غاو (سخت اعتراض) یې د امیر له درباره پښه و ایستله اوبیرتـه یـې افغاني تـاټوبې تـه مخـه کړه. د بخـار امیـر د وزیراکبـر خـان او د هغـه د ملګـرو د نیولـو لپـاره خپـل جنګیالان ولیږل.د امیر جنګیالیو افغانان وموندل او د هغوی د تګ مخه یې ونیوله.
سردار اکبر خان او ملګرو یې چې ټول ټال دیرش تنـه ول ، د بخـارا د پاچا د جنګیـالیو پر مـخ چې شمیر یې د ۲۰۰ او ۳۰۰ تنو په شاو خوا کې سپاره وزبکان کېدل، تورې لـه تیکو را و ایستلې او جګړه یې پیل کړه. د سردار اکبر خان ۷ تنه ملګري او د بخارا د پاچا دیرش تنـه جنګیـالي پرځمکـه را پریوتل ، سردار اکبر خان ، ورور یې افضل خان او د اکا زوی یې سردار سلطان احمد خان سخت ټپیـان شـول او د ډیرو ټپونـو لـه املـه بې هوښـه شـول. د هغوی لـه بې هوښـه ځـانونو څخـه وینـې څڅېدلې او ټول یې د بخارا امیر ته راوستل او امیر امر وکړ چې ټول دې د پاچا د مانۍ (ارګ) پـه تورې څاه کې وغورځول شي. [۱]

سرداراکبرخان ۲ کاله وروسته دبخاراپاچا له زندانه را ووت اوهیواد ته راستون شو او په ۱۸۴۱ ز کال کې په کابل کې د مشرانو او سپین روبو په ټینګار او غوښتنې یې د انګریز ضد پاڅون مشري په غاړه واخیستله او درغلن مکناتن یې د افغاني سیاست په لومو کې راښـکیل کړ او مخکې لـه دې چې د دښمن غیشی دی له پښو وغورځوي د هیواد ټګ مار دښمن یې وواژه او لـه هغه وروسته د افغانستان د حقپال ولس د سترګو تور وګرځېد.

د انګلیس د یرغملو پر وړاندې د وزیر اکبرخان لـه مرینتوب او لـه ښیګڼو ډک چال چلند ددې لامل شو چې ان د انګلیس د شپاړلس نیم زریز لښکرله پوپنا کېدنې سره سره چې له هغو څخه یوازې یو تن ژوندی پاتې وو بیا هم هغه په درانده نوم یاد کړي. وزیر اکبرخان د جلال آباد پـه لاره کې د ۴۴ تنو انګریزانو ژوند چې له هغه څخه یې د مرستې غوښتنه کړې وه وژغوره او چاته یې اجازه ورنه کړه چې هغوی تـه څوک تـاوان ورسوي. څرګنده ده چې یرغمل کسان د وزیر اکبرخان لپاره لـه ارزښته ډک کسان ول ، خو لـه دې سره سره کـه د میلمـه پالنې خبره رامنځته شي ، نـو د هغوی میلمه پالنه یې د کوربه په توګه کوله. ان کله چې په جلال آباد کې یې د جنرال سیل لـه لاسـه ماتـه وخوړله او تېې شو د جلال آباد د مجاهدینو له ټینګار سره سره دې ته حاضر نه شو چې یا یرغمل کسان وځوروي او یا د میرمن سیل په ګډون هغوی ووژني. میرمن سیل چې د خپلو یادونو کتاب یې لیکلی د سردار اکبرخان نوم په درنښت یادوي او وایي چې " نوموړي سردار هڅه کوله چې یرغمل نیول شوي کسانو ته ځانګړې پاملرنه وکړي او پام به یې ساته چې څوک یې په بې لاملـه توګـه ونـه ځوروي او د ښځمنو پت یې خوندي وساته." [۲]

لوشینګتن د [لوې جګړې او کوشني هیواد د جګړې] د کتاب لیکوال د وزیر اکبرخان د ښیګڼو، کړو وړو او چال چلنـد پـه اړه داسې لیکـي:" هغه بولنـدوی چې د یوه لښـکر د پوپنـا کیدنې بنسټ یې ایښودلای وو که د یوې دروهې (توطئې) په ترڅ کې دروهه جوړونکي ګوتو تـه ورتلل نولـه هغه سره سره به یې د ښیګڼې په کولو د میلمنه پالنې پـه دود د هغوی پالنـه کولـه. یوه ورځ یې د هغه

افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

مخې ته " لیوتننت لویل" راووست، محمد اکبرخان د هغه ټپونه په خپل لاس ور وتړل او د ټپ پر سر یې ورته لته دود کښیښود او هغه ته یې خپله ډیره زړه سواندي ورڅرګنده کړه. له استثنایي شېبو پرته د هغه چال چلند په ټولیز ډول له ټولو سره یو شان وو. سردار اکبر خان له انګلیسي یرغملو سره داسې چال چلند وکړچې پرمختللي مدني هیوادونه یې له جنګي یرغملو سره کوي او که د هغه دغه چال چلند د لویدیځ له نورو واکمنو د بیلګې په توګه د حیدر یا تیپو سلطان له میرانو سره پرتله کړئ نو د افغاني مشرد لوړو اخلاقو او ښیګڼو بیلګې به په ځانګړتیا در څرګندې شي." [۳]

هغه څه چې دغه لیکوال هک پک کوي دا دئ چې ولې سردار اکبرخان له یوې خوا د دومره لوی لښکر پو پنا کیدنې ته غاړه ږدي او له بلې خوا د همدغه لښکر پر کوشنی پاتې شوې ډلې زړه سواندی دی؟
ځواب څرګند دئ. سردار اکبرخان د افغاني ځانګړتیاو او چال چلند په لرلو له چا غچ نه اخیست (دا د ټولو افغانانود ژوند یوه دودیزه بیلګه ده چې که څوک ځان د افغاني سیوري پناه ته وسپاري، نو هغه سړی له غچ اخیستنې څخه بچ دی) او که سردار د یوه لښکر پو پنا کېدندې ته غاړه ږدي هغه یې ولسي او ملي دنده وه، ځکه دا په خپله انګلیسان ول چې په څو څو ځله یې خپلې کړې ژمنې تر پښو لاندې کړې وې.

سردار محمد اکبرخان د لغمان په بدیع آباد کې له انګلیسي یرغمل کسانو سره هغسې له ښیګڼو ډک چلند کاوه چې له یوه افغاني سردار سره ښایي. هغه د ټپیانو خبر اخیست، ښځمنو ته به یې د زړه ډاډینه ورکوله د هغوی له ماشومانو سره د ځمکې پرمخ کښیناست او له هغوی سره به یې لوبې کولې او په افغانستان کې د دودیزه ژوند د یوې برخې پر بنسټ یې د انګلیسي ښځو او ماشومانو په ساتنه او هغوی ته په درنده سترګه کتلو کې اړینه پاملرنه کوله.

اندرسن یو تن انګلیسي افسر د یرغمل نیول شویو کسانو په ډله کې وو او د هغه څلورکلنه لورهم د خورد کابل د درې په غاښې کې د ۱۸۴۲ زکال د جنوري په اتمې نیټې د غازیانو لاس ته لویدلې وه او د سردار اکبرخان د لارښوونې پربنسټ نوموړي نجلۍ کابل ته لیږل شوې شوه چې د نواب محمد زمانخان په کور کې یې ژوند کاوه او د نواب د کورنۍ له بامنې او مینې ډک چاپیریال څخه برخمنه وه. د نجلۍ مور او پلار له دې امله سخت په اندیښنه کې ول، سردار اکبرخان د نائیب امین الله خان په نامه له جلال آباده یو لیک ولیږه او له نجلۍ یې د ډاډ وړ کسانو له لارې بیرته را وغوښتله. په دې اړه یو لیک شته چې د سردار اکبرخان په خپل قلم لیکل شوی دئ. دا دئ اوس د همدغه لیک متن ولولی :
"ګران اکا او نائیب صاحب دې د پاچایانو د ستر او څښتن پاچا د لوړې ځلاندې مانۍ د رڼا په روښنایي کې رانغاړلي وي او د ستاینو وریا دې پرې وي او لوی څښتن دې له هرډول کړاوونو څخه په ساتنې کې د خپل سیوري تر پناه لاندې ولري او د خوښۍ هېله یې کوم. له هغه ورسته غواړم د اندرسن د یوه تن پیرنګي د لورپه تړاوڅرګنده کړم چې د هغه لورد خورد کابل په دره کې مخورو او څښتن دوست محمد عمرخان ته ورکړل شوې وه او د نوموړې نجلۍ پلار د څښتن دوست میراحمد خان لاس ته ورغلی وو اوله هماغه نیټې وروسته د نوموړې نجلۍ د کورنۍ اړوند کسان چې زما په ولکه کې دي خورا زیات کړیږي چې په دې تړاو مخکې هم لیکنه شوې وه. اوس یو ځل بیا لیکم چې په هر ډول چې اړینه بولی او کیږي هماغه نجلۍ د ډاډمنو کسانو په ساتنه کې راولیږئ ځکه دا ښه کار دئ او که را ونه رسیږي نو ډیره ناوړنده او نامناسبه کړنه به وي. هیله مند یم چې په دې تړاو تر خپلې شوني وسې هڅه وکړئ ، زموږ له اړخه مو زړه ډاډه اوسه ، د خپلې روغتیا او د روانو پیښود لړۍ خبر په لیکلې توګه موږ ته راولیږئ بشپړ ډاډ لرم چې د اندرسن د لور په رالیږنه

افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

کې به هېڅ ډول نیمګړتیا او بې پروایي ونه شي اودا یو له اړینو چارو څخه دې چې ودې شي ؛ نور مو د لوی څښتن په پنځونې اود بامنې تر سیوري لاندې غواړم. د سردار محمد اکبر خان مهر" [۴]

ددغه ځانګړي لیک د لیکښې له مخې د دښمن د ناموس او د هغوی د ځان د روغ رمټ والي په اړه د غازي سردار محمد اکبر خان هغه انساني احساسات راڅرګندیږي چې د یرغمل نیول شویو کسانو په تړاو یې درلودل ؛ ددغه لیک څوکرښې هغه له ویاړه ډک لاسوند دئ چې ددغه سردار مجاهد دریځ یې ددښمن په سترګو کې لا دروند او لوړ کړئ وو. د ۱۸۴۲ ز کال د مې د مېاشتې په لسمې نیټې نوموړي نجلۍ د هغې مور اوپلار ته و سپارل شوه چې مور او پلار د خوښۍ په جامو نه ځاییدل. د نواب محمد زمان خان کورنۍ نجلۍ ته ورښودلې ول چې که څوک ورڅخه پوښتنه وکړي نو ودې وایي چې :" مور او پلارمې کافر دئ ، خو زه مسلمانه یم." [۵]

له جنګي یرغملواو د هیواد له دښمنانو سره د سردار اکبر خان د اخلاقو او له ښیګڼوبرخمن چال چلند اود هغه د مېلمه پالنې په اړه له انګلیسي لیکوالانو څخه ډېر څه پاتې دي چې هر یو یې په خپل وار هغه څه چې نن موږ وایو د وزیر اکبرخان د دغې ځانګړتیا ، رښتونې منښته کوي.

بریدمن ایر(یو تن یرغمل) وایي چې : د انساني اخلاقو اوښیګڼو بله لوړه کچه بل ځای نه شو موندلای چې اکبرخان یې له خپل لوري د یرغملو په حق کې څرګندوي، په هغه شیبه کې چې یرغمل او ددوی ساتونکي د کابل د بهانده سیند د څپاندو څپو له سره تیریدل هغه ډېره اندیښنه درلوده چې له یرغمل نیول شویو کسانو څخه څوک ډوب نه شي او په پای کې ټول روغ رمټ له سینده تیر شول. ایر د مکنزي د وینا له مخې چې د دسامبر د مېاشتې د ۲۳ په غونډه کې یو یرغمل وو ، وایي:" زه باید د محمداکبرخان په اړه د نیاو او انصاف له مخې ووایم چې کله زما د غاړې د پریکولو لپاره د غازیانوکړی راتاو شوه نو ما د هغه رکاب ته لاس واچاوه او ځان مې ټینګ کړ، هغه په زړورتیا خپله توره له تیکي را وایستله، توره یې له تر سر تاوه کړه او ویې ویل"هیڅوک نه شي کولای هغه ته تاوان ورسوي، مګردا چې لومړی زما چاره راوکړئ." د وزیراکبرخان پراخلاقو ، غرور هغه وخت غلبه وکړه کله چې پوه شو چې نور زه له ګواښ سره مخامخ نه یم، او په ملنډو یې راته وویل چې "ته راغلی یې چې زموږهیواد ونیسی!" [۶]

لوشینګتن لیکي...."سره له دې چې د یرغمل نیول شویو او د وژل شویو خپلوان په ویرې او ترهورې پر اکبرخان بد وایي او د خپلو خبرو لپاره دلایل هم لري خو یرغمل د میلمنو په توګه په برابر دریځ د کوربه مخې ته کښیني او له هغه سره خوراک او څښاک کوي. د انګلیس د لښکر پو پنا کوونکی او د انګلیس د سیاسي استازي مکناتن وژونکی ، د خاورینې ځمکې پرمخ د هغو کسانو د ماشومانو په منځ کې چې ژوند او مرګ یې دده په لاس دئ ناست او له هغو سره لوبې کوي او پر هغوی ګران دئ..." [۷]

ان پر افغانستان د انګلیسانو له یرغل مخکې د بهرنیو پروړاندې د سرداراکبرخان چلند له درناوي ډک وو. لرغون پیژندونکی او په ۱۸۳۸ز کال کې د امیردوست محمد خان دربار ته د برنس د پلاوي پیښلیک لیکونکی (واقعه نګار) چارلزمیسن تر یوې مودې پورې په کابل کې پاتې شو او د بالاحصار ګرد چاپیره یې د لرغون پیژندنې څیړنې پیل کړې چې په پای کې د څو ښځمنو مجسمو کوپړۍ ، یو شمیر لوښې او نور اوزار وموندل. کله چې سردار اکبرخان د دغو موندنو په اړه خبر شو هغه یې ځانته را و باله ؛ کله چې د سرو زرو په پاڼو پسولل شوې د کنډو (مجسمو) سرونه یې ولیدل ، ویې ویل: کاشکې په رښتونې نړۍ کې هم دومره ښکلا وای.میسن وایي چې سردار اکبرخان او د هغه اکا نواب جبارخان د بهرنیانو ساتنې ، پالنې او د هغوی د اړتیاوبرابرولو ته ډېره پاملرنه کوله او له هره اړخه پوهانو او لرغون پیژندونکو ته یې اسانتیاوې چمتو کولې. میسن نوموړي ارزښتناکه شیان لومړی کلکتې او بیا یې لندن ته یووړل.[۸]

افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

د افغانستان د وروستینو پاچاهانو (پادشاهان متأخرافغانستان) د کتاب لیکوال د سردار اکبرخان په اړه لیکي : "وزیر اکبرخان یو پوه ،لایق او هوښیار سړی وو او ته به وایي چې په دنیوي چارو کې یې له ټولو ډګر ګټلی وي او په عقل او ځیرکۍ کې او د نړۍ لید په تدبیر کې تر ده لوړ نورڅوک مونده نه شي." [۹]

سردار اکبرخان زړور او په خپله ژبه او ژمنه ټینګ ولاړ سړی وو.کله چې د مرنجان په غونډۍ کې یې د فتح جنګ او نائیب امین الله جنګیالیو ته ماته ورکړه او د محمد شاه خان بابکرخیل په منځګړیتوب سولې او د فتح جنګ د وزارت د څوکۍ منلو ته یې غاړه کښیښودله، نواب محمد زمانخان سردار د وزارت د څوکۍ له منلو او له نائیب امین الله خان سره د خپلوۍ له کولو څخه منع کړ، خو هغه ځواب ورکړ اوس مې د سولې ټول آړونه منلي اونه شم کولای له خپلې ژمنې بیرته را وګرځم. حمید کشمیري د سردار اکبرخان له ژبې نواب زمانخان ته وایي:

جوابش بگفت اکبر نامجوی — که اکنون چه خیزد ازین گفتگوی
چوشب بسته پیمان سحر بشکنم — چه گوید بر دوستان دشمنم؟
درستی گر از عهدخود گم کنم — ازین پس چه پیمان به مردم کنم [۱۰]

(ژباړه: نومیالي اکبرورځواب کړه چې له دغو خبرو څخه څه لاس ته نه راځي ځکه چې په شپه کې کړې ژمنه نه شم کولای بل سهار را ماته کړم ، زما دښمن به زما دوستانو ته څه ووایي؟ که زه له خپلې ژمنې سپیڅلتیا لیرې کړم نو له ولس سره به څه ژمنه وکړای شم؟)

د همدغه ځواب په ورکړې د نواب محمد زمانخان او د وزیر اکبر خان اړیکې ترینګلې شوې او خبره دې کچې ته را ورسیدله چې دواړو د اکا زامنو د یو بل پرمخ تورې را وایستلې اوسردار اکبرخان لاس برې شو او نواب محمد زمانخان یې وبخښه او بیا یې له هنده د امیر دوست محمد خان ترراستنیدلو پورې هغه یې د کابل د پاچاهۍ د مرستیال (نائیب) په توګه وساته.

سرداراکبرخان میره مخې، پټمن او بخښونکی وو. کله چې د هغه چوپړمار او ساتونکی پیرمحمد کاکړې د شا له لورې پرهغه ډز وکړ ، سردار ټپي او له مرګه بچ شو. پیرمحمد ومنله چې انګلیسانو دی تیر ایستلی اوهغه ته یې روپۍ ورکړې وې چې سردار ووژني نو اکبرخان نوموړی وبخښه او له مرګه یې ور تیر شو.

سردار میرنتوب او افغانیت له یو بل سره برابر ګڼل ، هېڅکله یې نه غوښتل چې دښمن ته شا واړوي. ان کله چې د بخارا له زندانه ورته د تیښتې لارې چارې برابرې شوې او پلار یې ورڅخه وغوښتل چې له هغه سره یوځای د بخارا له زندانه وتښتي نو سردار دغه کار بې پتې او له هراندۍ (بزدلي) ډک کار وباله او پلار ته یې په ځواب کې وویل چې مرګ په میرنتوب کې مني خو نه غواړي په پټۍ کې ژوند وکړي.

لنډه دا چې سردار اکبر خان د خپل لنډ دیرش کلن ژوند نیمایي برخه په وياړ سرلوړۍ تیره کړه او د سربښندویه ژوندانه دغه کلونه یې د هیواد د ملي واکمنۍ او د ځمکنۍ بشپړتیا په ساتنه کې له بریاوو ډک ول ، له انګریزانواو له پردیپالو هیواد پلورو سره یې نه پخلا کېدونکې دښمني درلودله او دغه موده یې له خپلې ځلاندې او تورکښې (لوخ) تورې سره یو ځای د هیواد او د ملي یووالي د دښمنانو پروړاندې په جګړه کې تیره کړه. د هیوادوالو په زړونو او سترګو کې د یوه میرنې غازي مجاهد او د انګلیسانو د یوه سرسخته دښمن په توګه د هغه د زړورتیا او میړانې یادونو دومره ستر او له درنښته ډک کړ چې د ۱۸۴۱ – ۱۸۴۲ ز کلونو د پاڅون له بریا سره سم د هغه د ښادنامو اوله بریاوو ډکو جګړو په وياړ د اکبرنامې په نامه شعري بوللې (حماسه) اورزم وبزم د (حمید کشمیري له پلوه په " ۱۸۴۳ ز چې له ۱۲۶۰ هجري سره سمون خوري" جوړه شوه) او ظفرنامه

افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

اکبري [اکبري بریلبک] [د ډیلي د اګرې د اوسیدونکي قاسم علي لـه پلوه پـه ۱۸۴۶ ز کـال چې لـه ۱۲۶۳ هجري سره سمون خوري] وویل شوه. چې دغو دواړو د هغه نومیالتیوب تـه د یوه تلپاتې اتل نوم ورکړ.

وزیر اکبرخان د هیواد له ودانیو او د هیواد د چاپیریال له ښیرازې سره ډیره مینه درلودلـه. د سراج التواریخ د لیکوال د وینـا پر بنسټ پـه جلال آباد کې د بـاغ سراج ودانـۍ د وزیـر اکبر خـان لـه نـه هیریدونکو څلیو څخه یو کار دئ. وزیر اکبرخـان د خپلـې ځوانۍ پـه ډیرو تـودو شپو ورځو کې پـه ۱۸۴۶ ز کال کې په دیرش کلنۍ کې په لغمان کې سترګې له نړۍ وتړلې او د هغه جنازه یې د فیل پر اوږو مزارشریف ته یوووړه او د هغه د وصیت پر بنسټ یې د حضرت علي کرم الله وجهه پـه روضـه کې خاوروته وسپاره.[۱۱]
له هغه وروسته ګنګوسې خپرې شوې چې انګریزانو د خپل ۱۶۵۰۰ کسیزلښکر د پوپنـا کیدنې پـه غچ کې د خپل یوه جاسوس له لارې هغه ته زهر ورکړل. اروا یې ښاده او یاد یې تل ژوندی وي!

پـه خواشینۍ چې زموږ د هیواد والـو پـه منځ کې داسې کسـان هم شـته چې سترګې یې د وزیر اکبرخان غازي د سربښندنکو او له ځانه تیرېدونکوحماسو د لیدلو وس نه لري او پـه بیلابیلـو شیـبو کې ددې پرځای چې د هېواد ددغسې سربښندونکي بچي د ښېګڼو او میرانو یادونه وکړي هغه د خپل قلم په څوکو چیچي او په خپل اند هڅه کوي چې ګڼې د هغه د شخصیت له دروندوالي څخه به یو څه کم کړي.

حقپاله او حق پیژوندونکي افغانان هېڅکله چاته اجازه نه ورکوي چې د هغوی ملي او اتـلي څیرې چې د خپلو وینو په تویولو یې دغه ټاټوبی ساتلی او موږ ته یې په سربښندنې را ډالۍ کړی وښکنځي ، یا یې سپکه ووایي او یا هغوی ته په سپکه وګوري.
د وزیر اکبر خان زړورتیا ، میرانه او د هغه د هیواد او ولس پالنې اوچت او ژوندی احساس په خپله د سړي د زړه په تل کې د باتورۍ او سر ښندنې څپې را پاروي. لـه دې املـه ددغو کرښو د لیکلو لامـل، زما د هغې ژورې لیوالتیا له تـل څخه سر چینه اخلي چې دغه ملي ولسي ستر شخصیت تـه یې لرې ، او دا دې د هغه د مړینې له ۱۶۴ کالو وروسته غواړم د وزیر اکبر خـان یـاد د یوکتـاب پـه لیکلوکې ولمانځم.
د هیواد ځوانانو اواوسني مخ په ودې زوزات (نسل) ته ښایي چې د خپلې پوهې د لوړ والي لپاره د خپل هېواد تأریخ یو ځل بیا پـه ځیر ولولي او ورتـه څرګنده شي چې زموږهېواد د خپل تـأریخ پـه اوږدو کې په ځانګړې توګه د اوسني تأریخ په سپیڅلې لمنه کې داسې میرنـي او بـاتور بچي روزلـي دي چې هیواد او ولس د هغوی په رغنده سربښندونو ویاړي. پای

اخځونه او سرچینې:

[۱]– میرزا عطا محمد شکارپوري نوای معارک پ. ۱۲۶
[۲]– غبار، پ ۵۷۶ ، سراج التواریخ ټوک ۲، پ ، ۲۰۰ – ۲۰۱
[۳]– فرهنګ ، افغانستان در پنج قرن اخیر، ټوک ۱ ، پ ۲۹۰
[٤]- کهزاد، درزوایای تأریخ معاصر افغانستان، پ ۸۷
[٥]– بریدمن ایر ، په افغانستان کې د یوه بندي خاطرات ، پ ۲۱۲
[٦]- هماغه اثر، پ ۱۸۴ - ۱۳۰ - ۱۳۴
[۷]– کهزاد هماغه اثر، پ ۸۹ - ۹۲
[۸]– کهزاد د کابل بالاحصار .... ټوک ۲ پ ، ۲۳۶ – ۲۳۷
[۹]- میرزا یعقوب علیخان خافي ، پادشاهان متأخر افغانستان، ۱۳۳۴ ، پ ۸
[۱۰]– اکبرنامه ،پ ۲۲۱- ۲۲۲ خپره شوې په ۱۳۳۰ لمریز
[۱۱]– فیض محمد کاتب ، سراج التواریخ ، ټوک ۲ ، پ ۲۰۱ – ۲۱۵

افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ